# تر هغه پورې قیامت نه قایمیږي تر دې چې یو سړی به د خپل ورور په قبر تېر شي او وبه وايي، کاش چې زه د دې پر ځای وم

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «تر هغه پورې قیامت نه قایمیږي تر دې چې یو سړی به د خپل ورور په قبر تېر شي او وبه وايي، کاش چې زه د دې پر ځای وم».
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکړ چې قیامت تر هغه پورې نه قایمیږي تر دې چې یو سړی به په یو قبر تېر شي نو ارمان به وکړي چې کاشکې د مړي پر ځای وای، او لامل به یې په خپل ځان وېره وي چې هسې نه د باطل او د باطل پرستو د بریا او د فتنو، ګناهونو او منکراتو د ښرګندېدو په صورت کې ترې دین لاړ نشي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65022